

نظيف تکل

# د غزل تکړه شاعر او بریالي ليکوال ښاغلي نظيف تکل سره ادبي مرکه

مرکه کوونکی:

انجنير عبدالقادر مسعود

غزل په پښتو ادب او هنر کې يو ډير نازک، رنګين، غوړيدلې شعري فورم دی، چې لرغونی تاريخ لري. زموږ زياترو شاعرانو په پښتو غزل کې خپله طبع په ډير ښکلي، عالي او ادبي انداز سره آزموېلې ده او خپل قلمونه يې اوچت ساتلي دي. د دغو نامتو او پياوړي شاعرانو بيلګې ډيری زياتی دي. دغو شاعرانو نه يوازی په غزل کې بلکې په هر ډول شعري فورم کې يې خپل استعداد او ذکاوت آزمويلی دی، چې د دوی ټول فعاليتونه او کارنامې د قدر او ستاينې وړ دي.

يو له دغو با استعداده شاعرانو او ليکوالانو له ډلې څخه زموږ تکړه او پياوړی شاعر ښاغلی نظيف تکل دی، چې د خپلو

www.esalat.org

منظومو او منثورو آثارو په وسیله یې زموږ د پښتو ادب ګلبڼ تازه، ښیرازه او روښانه ساتلي دی.
ښاغلی نظیف تکل د رحمت ګل زوی دی چې په (۱۳۴۰) لمریز کال کې د کونړ ولایت د څوکی ولسوالی د ګټو کلا په کلي کې نړۍ ته سترګې پرانیستې دي.
ده خپلې لومړنې زده کړې د څوکی په ولسوالی د جمعیت په لیسه کې تر سره کړي دي. نوموړي خپلې لوړې زده کړې د کابل د پولی تخنیک د انجینیري په څانګه کې پای ته رسولي دي. وروسته له دې چې دی د پولی تخنیک له انستیتوت نه فارغ شو، ده د افغانستان د ساختماني چارو په وزارت کې د پروژو جوړولو په مرکزي انستیتوت (پما) کې د انجنیر په توګه په کار پیل وکړ. هغه شوق او علاقمندي چې ده د ادبي ژانرونو شعر او شاعري سره درلوده، ده په (۱۳۶۲) کال کې خپل استعداد په شعر ویلو کې وآزمویه او یو شمیر شعرونه یې وویل.
دی په (۱۹۹۶) زیږدیز کال د (لیمې مجلی) مسوول مدیر و، د دغی مجلی پالیسي یوازی د پښتو ادبیاتو خپرول وو.
دی د(۲۰۰۳) زیږدیز کال څخه تر (۲۰۰۵) زیږدیز کال پورې په هالند کې دافغاني کلتوري ټولنې مشر و. اوس په لندن کې د خپل کورنۍ سره ژوند کوي. ده په هالند او لندن کښې د خپلې ژبې او د پښتو ادب د ودې او پرمختګ په لاره کې د قدر وړ خدمتونه کړي دي. دی وروسته له (۱۴) کالو څخه خپل ګران وطن افغانستان ته ولاړو او هلته یې د ادب د مینه والو په مرسته په خپله ولسوالې (څوکی) کې د ادبي بهیر بنسټ کیښود.
زما پیژندګلوی د دغې خوږ ژبي شاعر سره د تیلفون په کرښو کې پیل شوه. وروسته له ډیرو خبرو اترو، د ماسره دا ذهنیت پیدا شو، چې دی په رښتیا سره د عالي فکر او پوهې او دلوړو اخلاقو او فضایلو خاوند شخصیت دی. د ده په خبرو

کې د وطن او هیوادوالو سره، د پښتو ژبې او پښتونوالي سره، او د پښتو د ادب د ودې او پرمختیا سره ژوره مینه او محبت له ورایه مالومیږي.

تکل صاحب په ډیره مینه او اخلاص خپل کتابونه ماته ډالۍ کړل، چې له ده نه مننه کوم. وروسته له دې چې ما د ده کتابونه ولوستل، نو ما ولیدل چې دده په شعرونو کې په رښتیا سره پاک او سپیڅلي عاطفي احساسات په ډیر عالي توګه بیان شوي دي او دی د ښه قلم خاوند شخصیت دی. همدا وجه وه چې ما د ځان سره تصمیم ونیوه چې د ده د ادبي شخصیت په هکله یو څو کرښې ولیکم او د ده سره یو ادبي مرکه ونیسم تر څو زموږ هیواد وال، د ادب مینه وال او د شعر مینان د ده د ادبي فعالیتونو په هکله معلومات پیدا کړي.

د یادونې وړ ګڼم، چې د تکل صاحب په ټولګو کې هم د محتوا او مضمون په لحاظ او هم د فورم او شکل په لحاظ داسې شعرونه لیکل شوي دي، چې د اوسنیو او راتلونکو ځوانو شاعرانو لپاره یو ښه ادبي لارښود ګڼل کیږي.

ده په خپلو شعرونو کې د طبعیت ښکلي مناظر، د پیمخو او شاپیریو حسن، جمال او ښایست، مینه او محبت، د ټولنې انساني او اجتماعي پدیدې، د وطن، انسان او انساني کرامت سره ژوره مینه،، د سوکالۍ، خپلواکۍ، آزادۍ پیغامونه، د خلکو راویښول او د خلکو عاطفي احساساتو را پارول، عدالت، صداقت، وروروالي، اتحاد او اتفاق د ملي وحدت روحیه، د پښتو او پښتونوالي سره ژوره مینه، د جنګ، د یاس او نهیلۍ تصویرونه، د غم، درد، کړاوونو او ناخوالې انځورونه، د ظالم ظلم، او داسې د نورو پدیدو په هکله خپل فکر او خیال، کنایات، استعارې، موسیقیت، عاطفي او انساني احساسات په ډیره ښکلي او شاعرانه ژبه بیان کړي دي.

ده خپل قلم د غزل، نوي، سپين اوآزا د شعر په ليکلو کې اوچت ساتلي دی، همدا وجه ده چې د ده په شعرونو کې هنري او ادبي اړخونه ډير ښکلي او دستاينى وړ دي.

دی په ډيره ساده او روانه ژبه شعرونه ليکي او د هرچا په ذوق برابر شعرونه لري. د بيلګې په توګه د ده د شعرونو دا بيتونه ګورو، چې وايي:

د افغان د زړګي مينه
په اور وسوه دوزخي شوه
څومره وينې دي بهيږي
لا د وينو ارزاني شوه
د مرګو خولګی شوه وازه
مړه زموږه زندګي شوه
دي کنډر کنډر وطن کې
را په برخه غلامي شوه
د سپرلي څولی کې ګوره
هره پاڼه زعفراني شوه
دا د چا د فرمان لاندې
آزادي مو بندګي شوه
هغه خاوره دجنت مو
لاړه باندې ستي شوه

**او يا وايي:**

څومره ترخې دي زموږ د کلي کوڅې
د غم ميرې دي زموږ د کلي کوڅې
لاره دې بچه کړه پرې مه راځه نور
سريخورې دي زموږ دکلي کوڅې
قدم دي ورو ږده په وينو نه شي
په وينو سرې دي زموږ دکلي کوڅې
دمينې غل په نيمه شپه راغلی

www.esalat.org

ځکه سړي دي زموږ دکلي کوڅي

**او یا وایي:**

لوټ شومه یاره دپردو کوڅه کي
ځیري ګریوان د لیونو کوڅه کي
دځواني وخته څه عبث تیرېږي
د چا په سر د تومتو کوڅه کي
جرګي مي لاړي شوی له سترګو بهر
پښتونه یاره دپښتو کوڅه کي

**او یا وایي:**

سترګو نه اوښکي خامخا وریږي
چي په هر لور د مرګ بلا وریږي
چیرته به پټ کړو ماشومان ورځني
چي مو په کور کلي بیدیا وریږي

**او یا وایي:**

رود د اوښکو مي له سترګو په ژړا ځي
په سفر مي له وطنه خوږ اشنا ځي
زهیر زړه مي په ګوګل کي وار خطا دی
د امید ناوي په لارو یک تنها ځي
بیلتانه مي په زړګي چاړه ټومبلي
فریادونه مي تر عرشه په هوا ځي

**او یا وایي:**

دا خو اشنا ستا د راتلو ورځي دي
ځکه خو مستي د سپرلو ورځي دي
د رڼا ګانو ورځ به کله راځي
په موږ خو ټولي د تیارو ورځي دي
زما دحال پوښتنه اوس مه کوه
چي مي وطن کي د سلګو ورځي دي
زما ګریوان ته دوعاګاني کوه
چي دي کوڅه کي دجرګو ورځي دي

اويـا وايـي:

پـه مـزار زمـا ډيـوې مـه بـلـوه
پـه ګـوګل راتـه لـمبې مـه بـلـوه
چې پـه ژونـد راسره مـينـه وفـا نـه کـړې
پس لـه مـرګـه مې نـو شـپې مـه بـلـوه

**او يـا وايـي:**

ښکاري چې ګلـونـه لـه بـهـاره مـرور دي
ايـښې ديـار ځـنـو کې لـه يـاره مـرور دي
راشی کـه جـوړيـږي چې جـرګـه يـې مـنځ کې وکـړو
ستـوري دغـه ستـوري لـه سـهـاره مـرور دي
څنګـه پـه سر کـوزې زمـانـه کې مـوږ اوسيږو
ګـوره چې يـاران لـه خپـلـه اره مـرور دي

**او يـا وايـي:**

د نـن تـيـارو کې د ډيـوو نـښه دە
د رون سحر د راخـتـو نـښه دە
مـين زړګی مـې ورتـه سپـر نـيـولـی
کـه دي بـنـو کې د چـړو نـښه دە
زمـا ګـنـاه خطا بـه څـه وه اشنا
چې دي اقـرار کې د تـوبـو نـښه دە

**او يـا وايـي:**

بـلـې چې دا ستـا د مـخ ډيـوې شولـې
جګې د سپـرلـو نـه سرې غـونـچې شولـې
اور مې د نـظر وو چې يـې وکـاره
پـورتـه انـنګـو نـه سرې لـمبې شولـې
ډيـر مې اشنا ستا لارې تـه وکتل
سترګـې مـنـتـظرې بې اسرې شولـې
وواېـه ساقـي چې مـلا څـه ووي
داسې چې هر کـوت سره تـوبـې شولـې

**او يـا وايـي:**

www.esalat.org

په نورسه مینې واوښتمه شپه شوه
څومره ډېره خوږیدله چې نشه شوه
دلنډۍ لمنې لاندې غلې غلې
خوځیدمه خوځیدمه چې غرمه شوه

**او یا وایي:**

یوه بې سره او شډله لاره ښه ده
تاته خپله ماته خپله لاره ښه ده
د چاپه پل باندې هر پل راته پیغور دی
خدای راکړې دا بې پله لاره ښه ده
ملنګي ده د چنار لاندې تیریږي
راته غوره همدا بله لاره ښه ده
چې مې هرڅومره تکل د فکر وکړ
دکروړ غونډې اتله لاره ښه ده

**او یا وایي:**

نه پاتې کیږي دا تیارې سبا ته
وار خو وکړه د دغې شپې سبا ته
سبا به راشي یو روښانه سبا
حساب به کیږي د زرې سبا ته
اغزي اغزي شو د وطن ګلونه
څه په اوربل ږدي پښتنې سبا ته
درڼا کلي ته ورتګ ملګرو
غواړي تګل او ارادې سبا ته

**او یا وایي:**

ستا پیغلتوب زما ځوانې تیره شوه
د چا ښایست د چا مستي تیره شوه
یودې یوې لارې دوه پردیس ملګري
د یو غرور دبل خانې تیره شوه
په زور مې اوس دخپل غزل پوهیږم
تکله څنګه یې خامې تیره شوه

**او یا وایي:**

ځمه د میني تر اسمانه رسم
په لپو ژاړم تر جانانه رسم
په ژوبلو اوښکو یادوم ملگرو
نامه د میني تر ارمانه رسم
د مخ کعبې ته چې دي پري نه شودم
اوس به نو کله تر ایمانه رسم

**او یا وایي:**

دغه یوه چې گوره ماته نیسي
څلور نوري وایه چا ته نیسي
ته خبر پر دغي یې او که نه
ټول عیبونه دي دنیا ته نیسي

**او یا وایي:**

ستا د یادونو شمعې بلې شي دي
د ارمانونوشمعې بلې شي دي
زما دي هیڅ پوښتنه ونه کړله
د دي لوظونو شمعې بلې شي دي
زما د هیلو بڼ تالاوالا شو
د بهارونو شمعې بلې شي دي
زما په برخه شو تکل د میني
د دي وختونو شمعې بلې شي دي

**او یا وایي:**

د اوښکو په هر څاڅکي کې خندا راته ځلیږي
په دي تورو تیارو کې سپین سبا راته ځلیږي
ژړا کې مې خندا شته په دي شه یم پوهیدلی
بېلتون کې د وصال هغه لیلا راته ځلیږي
منم چې ستا د شکلي مخ پتنگ یم لمبه کیږم
په دغو سرو لمبو کې ستا وفا راته ځلیږي

**او یا وایي:**

www.esalat.org

مالیدل چي سحرګاه وه
دځنګل په خاموشی کې
زه او ته وو څو خبري
دریم ګړی منځ کې نه و
دا خبري زما او ستا
وایه چایوړي بهر
او یا وایې:
لا خو اوس هم دمقصد په لاره نه ځي
تخیل مي
نه پوهیږم
چیرته درومي
دشکلا بادار غلام دی
ښه خبر یم چي ځواني یې ختمه نه ده
او یا وایې:
نا بلد ومه بلد شوم
خو ځمه درنه ځمه
د سیندونو خواته درومم
دځنګلونونه تیریږم
د ا غرونه شاته څه دي؟
نور ملکونه دي ابادي دي
او وګړي یې ماړه دي
جنګ جګړې ور په کې نه شته
دانسان قدر معلوم دی
داسي ځای زما خوښیږي
بس همداسي ځای ته ځمه
.....................................
او یا وایې:
په هغو کلیو کې هم
وتخنیږي

او د خندا وو ځپې
د دې شملو وطن کې
د غیرتونو قام ته
درناګانو له کور
سره مشالونه راوړي
چې دا خواره پښتانه
په خپل وطن کې
بې وطنه نه شي
او یا وایي:
دلته ګورمه له ډاره
ستا په ځمکه لویه خدایه
ملایکې نه کرځیږي
د نیکیو او بدیو
فرعوني اروا ژوندی ده
او یا وایي:
د زمان له غیږي پاځي
دارمان په چینه لامبې
د کنډو شیبو نه غواړي
دا څو تکې حقیقت
ازادي دژوند لپاره
او خوښي دژوند لپاره
که دا اور وي که ګلونه
دواړه خوښ د انسانانو

دتکل صاحب زیاتې لیکنې او شعرونه په ورځ پاڼو، مجلواو دانټرنیټي سایټونوپه پاڼو کې خپاره شوي دي. د ده چاپ شوي آثار دادي:
- او پاڼې مړې وي
- شبنم په پاڼه

- پاڼي د لونګو

او داسي نور آثار چي تر اوسه چاپ شوي نه دي.

د ښاغلي نظيف تکل د پوره پيژندګلوی لپاره ما د ده سره يوه مرکه نيولې ده، چي د تاسو ادب دوستانو او د شعر مينانو پام ورته راګرځوم.

تکل صاحب اجازه راکړی چي خپلي پوښتني پيل کړم:

**پوښتنه:** کوم احساس، شوق او ميني دي ته وهڅولې، چي تاسو بايدشعر وليکي او ځرنګه او مو خپل استعداد ته پام شو چي کولای شی شعر وواياست؟

**ځواب:** خبره د احساس، شوق او ميني ده، او شعر په خپله د احساس، ميني او تر اندازي د شوق خبره ده. ځيني ادب پوهان د شعر احساس خبره بولي او يو تعريف يي همداسي کوي، چي شعر د زړه غږ دی او زړه په خپله د ميني او احساساتو کور دی. دا چي زما ځنګه دي ته پام شو، چي شعر ليکلی شم ښايي دا به د هماغه لومړنيو

اوتوبوتو د ليکلو نتيجه وي، چي وروسته به مي ور پام شوی وي، چي يو نيم شعر هم ليکلی شم. او تر کومه، چي د بايد سوال دی ما هيڅکله هم داسي نه دي کړي، چي بايد شعر وليکم.

**پوښتنه:** معلوميږي چي تاسو د ادبي او فرهنګي آثارو سره زياته مينه لری، ولي تاسو دا تصميم ونيوه چي د خپلي تولني شاعر شي؟

**ځواب:** زه له خپل خدای (ج) څخه په دي هم ډير منندوی يم، چي له کتاب سره يي زما اړيکه و نه شلوله او لا تر اوسه ورسره هم هغسي ليونيي مينه لرم. پاتي شوه د شعر خبره، ډير وخت به ما د شعرد ښاپيری سره مينه نه کوله خو د شعر ښاپيری به کله کله خپل مخ په پته راښکاره کړ. وروسته له اوږدي مودي په دي وتوانيده، چي زما زړه راخپل کړي، اوس دواړه يو پر بل مينان يو.

**پوښتنه:** آيا تاسو د نورو ژبو آثار او شعرونه هم مطالعه کوی، او که مو لوستلي دي نو د دغو آثارو او شعرونو اغيز پر خپله شاعرۍ څه ډول څيړي؟

**ځواب:** ما د بلي ژبې شعر نه دی لوستی او دا، چې نه مې دی لوستی نو ځکه يې په خپله شاعرۍ هيڅ اغيز نه وينم.

**پوښتنه:** زموږ يو شمير ليکوالانو او شاعرانو د بهرنيو ژبو آثار او شعرونه هم ژباړلي دي. د تاسو په نظر د بهرنيو ژبو د ادبي آثارو ژباړه او يا زموږ د ژبودآثارو ژباړه په نورو ژبو کې د پښتو ادب د ودې او پرمختګ لپاره څه اغيز لري؟

**ځواب:** زه د نورو ژبو د آثار ژباړه پښتو ته، او پښتو آثار نورو ژبو ته يو فوق العاده ضرورت ګڼم او په دې کې د پښتو ژبې وده او پرمختګ وينم. موږ که ګاونډي هيواد ايران ته وګورو د نړۍ په هره ژبه، چې هر ډول علمي، مذهبي او ادبي آثار خپرېږي، ايرانيان يې د شپږو مياشتو نه واخله تر يو کاله پورې خپلې ژبې ته ژباړي. خو پښتانه په دې برخه کې بيخي پڅ دي. که څوک پښتو آثار نورو ژبو ته او دنورو ژبو آثار پښتو ته راژباړي زه په دواړو کې د پښتو ژبې خير وينم، او د پښتو د ودې او پرمختګ عامل يې ګڼم.

**پوښتنه:** د تاسو په آند شعر ليکل او شعر ويل الهام دی او که انساني تجربه؟ مهرباني وکړې په دې هکله په لنډه توګه معلومات راکړی.

**ځواب:** هغه مشهوره خبره ده، چې وايي: د پخواني يونان خلک سقراط ته په غصه شول او له قاضي نه يې سقراط ته د سختې جزا غوښتنه وکړه. قاضي سقراط ونيوه او ورته وې ويل، چې تا ته په دې خاطر جزا درکول کيږي، چې تا شاعرانو ته سپکې سپورې ويلې دي. هغه خوار، چې وهل شوی او ډبول شوی و، وويل، چې تاسو خو ما نه وپوښتی، چې ما شاعرانو ته څه

ویلي. ما فقط ویلي، چې شاعرانو ته الهام کیږي دوی، چې شعر وایي دوی هم نه پوهیږي، چې څه وایي خو د دوی په وینا (کلام)، بیا په ټولنه کې نور هوښیار خلک شته، چې د دوی وینا تعبیروي او تفسیروي او خلک وربانډي پوهوي. خو زه یې بیا د سقراط د دې مشهورې خبرې په ادامه دواړه بولم. هم الهام دی او هم تجربه. ځینې ادب پوهان وایي، چې الهام د بریښنا یوې ځریکې ته ورته دی، چې په ماغزو کې کیږي او معمولا لومړني یویا دوه بیته الهام کېږي او نور شعر بیا د شاعر پوهه او تجربه کېږي. زه یوه خبره ضروري ګڼم او هغه شاعرانه تجربه ده، چې شاعر یې په څه شکل خپل لوستونکي یا اوریدونکي ته ورلیږدوي.

**پوښتنه:** د تاسو په نظر شعر یعنې څه او شاعر یعنې څوک؟ تاسو د شعر او شاعري اغیز دیوې ټولنې د خلکو په راویښولوکې او د خلکو دملي احساساتو په راپارولو څرنګه څیړئ؟

**ځواب:** دې پوښتنې ته تر اوسه ادبپوهانو کوټلي ځواب نه دی موندلی، یا یې په یوه ځانګړي تعریف اتفاق نه دی کړی. زه فکر کوم، چې شعر د هغه انسان سره، چې ژبه یې پیدا کړې ده ملګرې راغلې دی تر دانه پورې. او بیا ننی انسان، چې څنګه زیږې یو له لومړنیو غږ ونو نه، چې د هغه غوږو ته رسیږي شعر دی. شعر د ژبې په اندازه لرغونی او پخوانی دی. شعر د احساساتو او عواطفو د بیان ژبه ده. (اسدالله غضنفر په دې عقیده دی، چې شعر هغه تیریګر پلوان شریک ته ورته دی، چې همیشه د نثر کروندې لاندې کوي او ګلونه په کې کري). شاعر هغه څوک دی، چې شعر لیکي. زه شعر د هنر دلویې ونې یوه څانګه ګڼم او ښه شعر هماغه دی، چې ستا د ذوق تنده درخړوبه کړي. پاتې شوه د ټولنې د خلکو د راویښولو او یا دهغوی د ملي احساساتو په راپارولو کې څومره رول لري ما مخکې وویل، چې شعر د احساساتو او

عواطفو دبیان ژبه ده د خوشحال بابا د شاعرئ ډېره برخه د خلکو د ملي احساساتو د راپارولو لپاره وقفه شوې ده.

**پوښتنه:** هر شاعر په شعر ویلو کې یا ځانته خپل ادبي سبک لري او یا له نورو شاعرانو د ادبي سبک او مکتب نه پیروي کوي. تاسو د یو شاعر په توګه ځانته خپل ادبي سبک لرئ او که له کوم بل ادبي سبک او مکتب نه پیروي کوئ؟

او راته وواياست، دکومو پخوانیو او معاصرو شاعرانو شعرونه مو خوښیږي؟

**ځواب:** استاد الفت د سبک په باره کې وایي، چې دسبک حقیقي معنا سره زر یا سپین زر ویلې کول یا په قالب کې اچول دي. مجازا دبیان د اظهار خاص طرز ته سبک وایي. دسبک بل تعریف داسې هم شوی دی: د ژبې دکارولو خاصه طریقه، چې دیوه لیکوال ادبي مکتب، ادبي پیر یا صنف ځانګړنه وي سبک بللی شو. د سبک په پیژندنه کې ځینې نور توکي مرسته راسره کولای شي. مثلا دلغتونو د انتخاب طرز، د جملو د جوړښت ډول، خیال، انځورونه، ځینې نور لکه وزن او یا بله هره ژبنۍ ځانګړنه د یو خاص سبک په پیژندلو کې مرستندوی دی. دا چې زه کوم سبک لرم که نه دپورتنیو یادونو په نظر کې نیولو سره زه خپله هم نه پوهیږم. او د پوښتنې په دې بله برخه کې، چې زه د کوم ادبي مکتب پیروي کوم په دې هم نه پوهیږم. خو شعر مې ډېر خوښیږي، چې کله ستړی شم شعر لولم هغه راته یو ډول ذهني آرامي رابښي.

**پوښتنه:** د کلاسیکو شاعرانو او د معاصرو شاعرانو شعرونه څرنګه ارزوئ او پرتله کوئ؟

**ځواب:** پښتو ادب پوهانو پښتو شعر په دریو دورو ویشلی دی. کلاسیکه دوره، منځنۍ دوره او معاصره دوره. په پښتو کلاسیکه شاعرئ کې، چې له خوشحال خان نه راپیلیږي. د منځني دور او منځنۍ پیر یې بیا د معاصر پیر سره توپیر لري. دا توپیر، چې خومره زماني واټن لري دغسې یې ادبي

www.esalat.org

تفاوت هم زيات دی پرتلنه يې خاص او ځانګړي ځيرنې ته ضرورت لري.

**پوښتنه:** د تاسو په نظر سپين شعر يا نوی او آزاد شعر او کلاسيک شعر څه توپير لري؟ او دا راته وواياست، چې د لومړي ځل لپاره د نوي، سپين يا آزاد شعر مفکوره څرنګه او چيرته را پيدا شوه؟

**ځواب:** ځينو شعر پيژندونکو د ښه شعر د ليکلو لپاره څلور توکي ډير ضروري بللي دي. فکر، احساس، تخيل او آهنګ. له کلاسيک شعر څخه که ستاسی منظور مقفا شعر وي، خو يو څرګند توپير يې د آزادشعر سره همدا دی، چې آزاد يا سپين شعر قافيه او رديف نه لري. مقفا شعر لکه څنګه، چې يې له نامه نه ښکاري هم بايد قافيه ولري او هم کله کله رديف ولري. زه په خپله په دې عقيده يم، چې په پښتو کې له پخوا نه آزاد شعر موجود وه. ټولی لنډۍ يې ښکاره ثبوت دی. او ځينې سروکي يې په پښتو فلکلور کې دا اوس هم د بيلګې په ډول يادولی شو.

په لويو غرو باندې راتاو شول طوفانونه
ږلی وريږينه
مه څه دلته شپه وکړه
پاتی شه باران دی

**او يا:**

بې بې شيريني زيړي ګلي
راباندی واچوه لونګی جوړه لاسونه

په پاسنيو بيلګو کې د يوه ښه شعر ټولی ځانګړنی شته، فکر، احساس، تخيل او آهنګ د موسيقۍ سره شيخي يې هم څه پته او پنا خبره نه ده ډيرو پښتنوسندرغاړو په خپلو ښو سندرو کې ورشاملې کړی هم دي. خو دپښتو ادب ځينی مورخين په دې عقيده دي، چې آزاد يا سپين شعر له اروپايي ژبو نه پښتو ته لاره کړی. بل دا، چې پخوا د شعر د شعريت لپاره

دا نظريه موجوده وه، چې شعر په وزن، خيال او قافيې پورې تړلی دی او شعريت يې هم له همدې نه تومنه اخلي خو زموږ د زمانی شعر که نوی خبرې ونه لري بيا خو نو بيخي شعر نه دی او دايې زما په عقيده تر ټولو لوی توپير دی.

**پوښتنه:** آياتاسو دشعر دليکلو تر څنګ نثرونه هم ليکلي دي او که نه، کمو ليکلي دي نو دتاسو په نظر شعر د خلکو په راويښولو کې او دملي احساساتو په ژوندي ساتلو کې زيات اغيز لري او که نثر؟مهرباني وکړی دشعر او ونثر د توپير په هکله خپل نظريات راسره شريک کړی.

**ځواب:** ما تر اوسه د ځينو مقالو نه پرته کوم هنري نثر چاپ ته نه دی وړکړی. د نثر يو تر ټولو آسانه تعريف دا دی، چې هغه څه ته نثر وايو، چې نظم نه وي. وايي، چې هنر په شکلا پسې ځي، خو شکلا مجبوره نه ده، چې د ټولنی د اخلاقي او اجتماعي قوانينو تابع اوسي. هنر يو ځانګړی انساني پيام دی د احساس او درديدلي انسان، چې هنرمند ورته وايي، هنر يې له روح نه راپورته کيږي او د نورو په روح اغيز پريږدي. که هنر وغواړي، چې درس ورکړي او لار ښود اوسي يا د واعظ منبر ته وخيږي او د خلکو د رهنمايي دعوه وکړي بيا نو ريښتينی هنر نه دی. يو دروغ او چل دی. شعر ما مخکی هم وويل، چې د هنر دلويې ونې يوه ځانګه ده. شاعر کوشش کوي، چې خپل روحي حالت د ذهني انځورونو په واسطه خپل اوريدونکي ته ورولېږدوي. ځکه خو ضروري نه ده چې شعر دی کوم کشف، اختراع او قضاوت لرونکی اوسي. کفايت کوي، چې ستا د روح هنري تنده ماته کړي. او همدا ستا لپاره ښه شعر دی. د شاعر وينا د تخيل، استعاری او تشبيهاتو په وسيله څرګنديږي. شاعرانه خبرې د فلسفی او د علم د خبرو سره فرق کوي.

**پوښتنه:** زموږ د پښتو ادب د حماسو نه ډک تاريخ لري، تاسو په ادبياتو او په شعر کې د دغو حماساوغيز څه دول ځيرې؟

**ځواب:** په پښتو ادب کې او په ځانګړي ډول شعر کې حماسي خپل ځای لرلی دی او لري یې. زموږ دشاعرنو په شعرونو کې که یو بیت هم حماسي دی هماغه بیت ستایل شوی دی او د خلکو پام یې ځانته اړولی دی د خوشحال بابا د شاعرۍ ډیره برخه حماسي ته وقف شوی ده.

**پوښتنه:** مهرباني وکړی د لنډیو په هکله خپل معلومات راسره شریک کړی، او راته وواياست لنډۍ چې د پښتوژبې د شفاهي ادب یوه ډیره مهمه او په زړه پوري برخه ده په لنډیو کې مفکوره، احساسات، تصویرونه او رزمي برخي څرنګه څیړې؟

**ځواب:** لنډۍ د پښتو ادب یو خوږ او په زړه پوری ژانر دی، چې ډیر په اولس پوري اړه لري. تخم یې یوازی د پښتو په ځمکه کرل کیږي په همدی ځمکه رازرغونیږي په همدی ځمکه لویږي. او په همدی ځمکه کې پیړی پیړی د خلکو په سینو کې ژوند کوي. لنډۍ د خپل نازک طبیعت له مخی ډیر وخت د ښځو له خلو راوځي ځکه اکثرا انځوریزی وي او حماسي رنګ یې هم ډیر پیاوړی وي. په پښتني ټولنه کې د ښځو د محروم ژوندانه ډیری بیلګي هم په لنډیو کې خوندي شوی دي.

**پوښتنه:** دمتلونو په هکله چې ز موږ د پښو ادب یوه بدایه زیرمه او شتمني ده څه نظر لری، دا چې زیاتره شاعران په خپلو شعرونو کې د متلونو نه ګټه پورته کوي د دی اغیز او دلیل څه ډول څیړې؟

**ځواب:** متلونه یوازی په پښتو کې نه بلکی د نړی په ډیرو ابتدايي او لرغونو ژبو کې به هم موجود وي. متلونه د هرې ژبې لرغوني شتمني بلل کیږي. ډیر وخت په خبرو کې د لا اغیز او ثبوت لپاره په کاریږي. دا، چې پښتانه شاعران یې په شعر کې استعمالوي کوم شعري ضرورت نه دی، یوازی د شاعر د ذوق خبره ده. نه استعمال یې د شعر نیمګړتیا نه ده.

**پوښتنه:** پښتو غزل چې زموږ دپښتو ادبیاتو یو غوره‌یدلی ژانر او صنف دی، کولای شي چې دنوروژبو سره په ځانګړي توګه هغه وخت چې دموسیقۍ په پردو کې په شکلي کمپوز کې زمزمه شي، سیالي وکړي؟ تاسو د پښتو غزلواصالت اوسنتي ځانګړتیاوي په څه کې وینې؟

**ځواب:** په پښتوکې اوس د خدای فضل دی غزل ښه غوره‌یدلی او مخ په بره روان دی ډیر پښتانه شاعران د غزل کامیاب شاعران دي. زه یې نومونه ځکه نه اخلم، چې د خدای په فضل کم نه دي ښه ډیر دي، او پښتو اوسنی غزل به اوس په سیمه کې یوازنی غزل وي، چې نور به غواړي ځان د پښتو غزل سیال کړي. اوسنی پښتو غزل تش نصیحت نه دی، اوس په پښتو غزل کې د ورځني ژوندانه ټولې غوښتنې په پام کې نیول کیږي، چې دپښتو غزل شکلا یې څو واره زیاته کړې ده.

**پوښتنه:** شعر او اسطوره په خپل منځ کې څه اړیکې لري؟ یو شاعر څه ډول کولای شي چې د اسطوري ځخه په خپل شعر کې ګټه پورته کړي، او دپښتو په شعر د اسطوري اغیز څرنګه څیړې؟

**ځواب:** اسطوري لرغوني افسانوي کیسې دي، چې د بشریت د خپل خلقت سره سمی رامنځ ته کړې دي، چې په یوناني ژبه کې ورته (میت) وایي او ډیری یې په یونان او اوسني هند کې رامنځ ته شوی دي. د میتولوژۍ اسطورو علمي څیړنو ته وایي. په پښتو معاصره شاعرۍ کې تر بل هر وخت اوس اسطوري ډیرې استعمالیږي. شعر او اسطوره په خپل منځ کې کومې خاصې اړیکې نه لري. داسې نه ده، چې د اسطورو نه استعمال د شعر نیمګړتیا ده او یا د اسطورو ډیر استعمال د شعر غوره والی دی. د اسطورو استعمال په شاعر پوري اړه لري او په پښتو شعریې زه څه خاص اغیز نه وینم.

**پوښتنه:** دا څرګنده ده چې د هر اثر کرکتنه او نقد ځانته خپل اصول او مقررات لري، تاسو زموږ د عصر اوسنی کره کتنې څرنګه څیړې، او دا راته ووایاست، چې ولې په هیواد

کې دننه او بهر د ادبي نقدونو په هکله ادبي او فرهنګي مرکزونه چې هلته با صلاحیته ادبي او فرهنګي منتقدین او کره کتونکي موجود وي نه جوړیږي؟

**ځواب:** وايي، چې ښه کرکتنه هغه وخت رامنځ ته کیږي، چې ښه ادبیات وجود ولري. موږ مخکې له دې، چې په ښه کرکتنه فکر وکړو باید په دې فکر وکړو، چې موږ ښه او وړ ادبیات لرو او که نه. په پښتو ادبیاتو کې هم د آثارو دځومره والي ستونزه موجوده ده د څرنګوالي خو یې پر ځای پریږده.

موږ لا په هیواد کې د ننه هم له یادي ستونزې سره لاس او ګریوان یو، له هیواده دباندې خودا مشکل د نورو ډیرو مهاجرو قومونو سره هم شته.

**پوښتنه:** تاسو دهغو شاعرانو شعرونه، چې سیاسي، ایدولوژیک او آرماني اړخونه لري څرنګه څیړئ؟ او د یو هنرمند، لیکوال او شاعر تعهد، رسالت او مسوولیت د یوادبي او اجتماعي شخصیت په توګه څرنګه ارزیابي کوئ؟

**ځواب:** ما مخکې هم د یوې پوښتنې په ځواب کې ویلي دي، چې هنر یو ځانګړی انساني پیام دی دحساس او دردیدلی انسان، چې هنرمند ورته ویل کیږي. که چیرته د شعر شعریت له هنره تومنه اخیستی وي خو خامخا به د لوستونکي یا اوریدونکي په روح خپل اغیز پریږدي او که چیری یې د ایډیالوژی نه تومنه اخیستی وي نو بیا به ګرانه وي، چې د ټولنې د قبول وړ وګرځي. ضرور نه ده، چې شعر د کوم قضاوت، کشف، اختراع او حکم لرونکی اوسي.

**پوښتنه:** کومو هنرمندانو او سندرغاړو د تاسو شعرونه کمپوز کړي دي او د موسیقۍ په پردوکې یې ویلي دي؟

**ځواب:** دهیواد نامتو او وتلي سندرغاړي استاد یارمحمد په خواږه غږ کې زما ډیرو شعرونو ته د سندرو روح پو کړی دی. یارمحمد استاد اوس مهال په هالند کې اوسیږي او لا یې هم خپل هنري کارونه مخ په بره روان کړي دي.

www.esalat.org

**پوښتنه:** په هیواد کې دننه او بهر په یو شمیر راډیویي او تلویزوني خپرونو کې ادبي اوفرهنګي پروګرامونه او برنامې خپریږي، د دغو خپرونو په هکله د تاسو نظر د یو باتجربه کاره ادبي اوفرهنګي شخصیت په توګه چې دراډیو او تلویزون سره مو همکاري لرله، څه دی؟

**ځواب:** په راډیو او تلویزون کې ادبي پروګرامونه د نویو استعدادونو د غوړیدا سبب ګرځي. که موږ وغواړو، چې نوي استعدادونه وروزو باید په راډیوتلویزون او فرهنګي ټولنو کې ادبي پروګرامونه جوړ کړو. پاتې شوه په راډیو تلویزون کې زما د همکارۍ خبره، ما هیڅکله هم له راډیو تلویزون سره همکاري نه درلوده.

**پوښتنه:** د کوزې پښتونخوا د شاعرانو او لیکوالانو فعالیتونه، کارنامې او آثار څه ډول څیرې؟

**ځواب:** زما په نظر په کوزه پښتونخوا کې پښتو ته کار شوی او کیږي، خو پښتو ژبه لا ډیر کار ته اړتیا لري. که چا یو ګام هم د پښتو لپاره اوچت کړی وي د ستاینې وړ دی. پښتو ژبه ډیر کار ته اړتیا لري، ټول باید سره لاسونه یو کړو، چې پښتو ژبه تر بل هر وخته اوس کار ته ډیر ضرورت لري. زه، چې د خپلې طبعې د شاعر رحمت شاه سایل شعرونه لولم ټوله ذهني ستړیا مې لرې کیږي.

**پوښتنه:** د تاسو په آند په هیواد کې دننه او بهر، ادبي ناستې، ادبي غونډې، ادبي او فرهنګي ټولنې او د شاعرانو او لیکوالانو فعالیتونه، کارنامې او د دوی آثار د پښتو ادب د ودې او پرمختیا لپاره څه اغیز لري؟

**ځواب:** ادبي غونډې او ناستې د تازه استعدادونو د غوړیدا سبب کیږي. یوبل ته د تجربو لیږد رالیږد وسیله ده. هرهنري اثر په ټولنه خپل مثبت یا منفي اغیز پریږدي.
دا اغیز د ښه او بد د درک قوه په انسان کې روزي. ځوان نسل د مطالعې سره روږدی کوي.

**پوښتنه:** د تاسو پیغام د یو شاعر او لیکوال په توګه زموږ ځوانو شاعرانو او لیکوالانو ته چې په هیواد کې دننه او بهر اوسیږي څه دی؟

**ځواب:** زما پیغام ځوانو شاعرانو او لیکوالانو ته دادی، چې په څلرویشت ساعتو کې دی دوه ساعته لیکلو او لوستلو ته وقف کړي. دا کار دي تل کوي قضایي دی په کې هیڅ نه راولي. که خدای کول په راتلونکې کې به ښه وځلیږي.

**پوښتنه:** مهرباني وکړی، د افغانستان په اوسني حساسو سیاسي او تاریخي شیبو کې او د اوسني کړکیچنواو تراژیکو حالاتو په اړوند د ادیبانو، شاعرانو او لیکوالانو اساسي رول او اصلي رسالت او دندې راته په ګوته کړی؟

**ځواب:** دا خبره مې تل په ذهن کې پوښتنې راولاړوي، چې زموږ د ټولنې شرایط ولې د لیکوال، شاعر او هنرمند لپاره خاص دي؟ آیا یو ساینسپوه، حقوق پوه، قاضي او سیاستوال له دې شرایطو مثتثنا دي؟ آیا پر هغوی دا شرایط اغیز نه لري؟
بې له شکه، چې دا شرایط په ټولو اغیز لري او ټول باید پام ورته وکړي. که یوشاعر عشقي شعر لیکي د ټولو د انتقاد ګوتې ورته نیغې وي او وایي به، چې دا شرایط وګوره او دا شعر، که یو کودتاچي نظام چپه کړي او ټول شرایط خراب کړي هیڅوک یې نه ملامتوي. خو شاعر په عشقي شعر ملامتوي.

شاغلی نظیف تکل له تاسو نه ډیره مننه، چې زما پوښتنو ته مو پوره ځوابونه راکړل.

تاسو ته د لا بریاوو په هیله.

زه هم د تاسو نه ډیره مننه کوم.

په ډیر درنښت او ادبي مینه: **انجنیر عبدالقادر مسعود**

www.esalat.org